مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد جان مخلص ۲۰۲۰/۰۸/۰۶

# په یوویشتمه پیړی کې نړیوال سیستم

**دغه علمي مقاله چې موږ يې تر بحث لاندې نيسو، یوه سیاسی موضوع ده او پدې کې کوښښ شوی د دې پوهه انتقال شي چې اوسنۍ کومه پیړی چې موږ پکې ژوند کوو کوم ډول جوړښت لري، دولتونه او ملتونه په کوم ډول سیاسي چاپيريال کې ژوند کوي او څه ډول غړي هیوادونه د یو سیستم یا شبکې د یو جز په حیث فعالیت کوي. دغه اجزا څومره خپلواکي لري، په داخلي، بهرني او نړیوال ډګر کې له سیاسي نګاه نه تر کومې کچې رول لوبوي.**

**مقدمه:**

که عنوان ته نظر واچوو نو پوهيږو چې دا عنوان د نړیوالو اړیکو په مضمون پورې تړاو لري، نو تر هر څه د مخه دا لازمه ده چې نړیوالي اړیکي تعریف کړو: په نظري او عملي توګه د هغي نړۍ د زیړون او نتايجو مطالعه ته چې د دولتونو تر منځ ویشل شویده د نړیوالو اړیکو علم وايي. [1] یا نړیوالي اړیکي د سیاسی علومو هغه څانګه ده چې د دولتونو تر منځ اړیکي او په خاصه توګه د هغوي بهرنی پالیسی تر بحث او مطالعې لاندې نیسي. [2] په ساده ټکو باید ووایو چې نړیوالي اړیکي هغه علم ده چې د دولتونو تر منځ اړیکي څیړي او ددې تر څنګ د دولتونو د بهرنیو پالیسیانو مطالعه یې د بحث محور جوړوي. دا علم له ځانګړي اهمیت نه برخوردارە ده ځکه همدا علم دی چې په اساس یې د هیوادونو تر منځ د اړیکو او په اړیکو کې د بدلون او دوام علتونه او دلایل لټول کیږي. همدا اړیکي دي چې د یو هیواد د صادراتو او وارداتو، ثبات، اقتصادي ودې، کلتوري بدلون او ډیرو نورو بدلونو لامل ګرځي.
سیستم چې په اصل کې له طبیعي علومو( بیولوژي) نه اخیستل شوي اصطلاح ده. سیستم د یو میکانیزم د څو اجزاو مجموعه ده چې یو ځای فعالیت کوي یا یو له بل سره د تړلو اجزاوو شبکې ته وایي. [3] نړیوال سیستم د دولتونو تر منځ هغه وخت رامنځته کیږي چې دوه یا څو دولتونه له یو بل سره په کافی اندازې سره اړیکي ولري، د یو او بل په پریکړو باندې په کافي اندازې تاثیر لري او غړي هیوادونه دې ته واداره کوي چې د یو جز په حیث فعالیت ترسره کړي. [4]
یوویشتمه پیړی هغه چې روانه ده او موږ پکې ژیست کوو له پخوانیو پیړیو نه په ډیرو مواردو کې بیله او متفاوته ده. پدې پیړی کې انسانان نسبتا ډیر یو له بل سره نږدې شویدي، انترنت، فیسبوک، تویتر، تولنیزې رسنۍ، ډیر ګړندی تجارت او د اړیکو ډیر وسایل ددې سبب شویدي چې اوسنی نړۍ د یو کلي حیثیت غوره کړي. دولتونه هغه استقلال چې یې درلود او مطلق واک یې پیاده کاوه اوس ورڅخه ناتوانه دي. اوس را به شو د موضوع اصلي برخي ته چې په یوویشتمه پیړی کې نړۍ کوم سیستم لري؟ څه ډول اړیکي د دولتونو تر منځ شتون لري؟ نو دا د یو لړ مشخصو ټکو له مخې واضح کوو چې په لاندې ډول دي:

**اول: د نړیوال سیستم په جوړښت کې هغه تاثیرات چې د دویمې نړیوالي جګړې په اساس پاتي دي:**

۱: <u>د امریکا متحده ایالات د نړیوال قدرت په حیث</u>: په ۱۹۴۵م کال کې چې کله دوهمه نړیواله جګړه پای ته ورسیده، د امریکا هیواد نظر ددې لیرې موقعیت ته چې د جګړې له صحنې یې درلود نسبت تولو هیوادونو نه کم متضرر شو. نور په جګړه کې ښکیل دولتونه لکه روسیه، انګلیستان، فرانسه، جاپان، المان ... یا خو په کامل ډول له سیاسی او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اقتصادي لحاظه تباه شول او یا هم له پښو وغورځیدل. نو هماغه ده چي امریکا د یواځیني ابر قدرت په حیث تر ننه پورې د نړۍ په سیاست کي له حاکمیت څخه برخمن ده. [5]
۲: د هستوي سلاح زیاتوالی او د دریمي نړیوالي جګړي ویره: د دویمي نړیوالي جګړي د خاتمي هیڅ درک نه لګیده چي بالآخره امریکا تصمیم ونیو تر څو یوه شدیده قهریه عملیه تر سره کړي تر څو مقابله خوا کي په ډیر شدت سره نه تسلیمیدونکی هیواد جاپان د جګړي خاتمي ته واداره کړي. هماغه و چي د جاپان په دوو ښارونو (هیروشیما او ناګاساکي) کي یې اتوم لرونکي بمونه واچول چي بالآخره جاپان بې قید او شرطه تسلیم شو. خو دا عمل او ورځ یو پای نه بلکه یو پیل ګڼل کیږي او هغه د ابر قدرتونو ترمنځ د اتومي سلاح ګانو د غني کولو یو بې ساري رقابت دی. اوس د رقیب او مقتدرو دولتونو له یوې خوا او د ضعیفو دولتونو له بلي خوا دا اندیښنه شته چي خدای مه کړه که دریمه نړی واله جګړه واقع شوه نو په غالب ګومان سره ټوله نړۍ له نابودۍ سره مخ شي. [6] [7]
۳: نوی استعمار: د استعمار شروع د لومړي ځل لپاره د یونان او روم لخوا وشو، ورپسي هالینډ، هسپانیه او پرتګال. تر دوی وروسته فرانسه او انګلستان هغه هیوادونه و چي استعمار او د دولتونو اشغال یې د بهرنیو پالیسیو یوه برخه وه. تر ټولو وروستی استعماري دولتونه د امریکا او روسیې هیوادونه دي.
استعمارد یو هیواد لخوا په یو بهرني هیواد باندي د سیاسي سلطي تر لاسه کولو پالیسي او فعالیت، په فزیکي ډول د هغه هیواد اشغال او په اقتصادي برخه کي له هغه هیواد څخه ګټه اخیستنه ده. نوی استعمار بیا هغه سیاسي او اقتصادي پالیسی ګاني دي چي له مخي یې یو قدرتمند هیواد په غیر مستقیمه توګه خپل قدرت په بهرني خاوري باندي برقراره ساتي او یا پراخوالی ورکوي. [8] یا که په ساده الفاظو ووایو نو پخوانیو پیریو کي دولتونو کمزوري دولتونه عملا تر فزیکي اشغال لاندي راوستل ولي یوویشتمه پیرۍ کي قادر دولتونه یواځي د هغوی له منابعو څخه استفاده کوي ولي په عمل کي ډیرکم واقع کیږي چي د یو دولت اشغال ته وهځیږي.

**دوهم: د دولتونو په رول کي بدلون:**

دولت هغه ټولنه چي پخپل جوړښت کي مشخصه خاوره ولري، پدې خاوره کي مشخص نفوس ژوند وکړي او دا دولت ددې خاورې او خلکو په حیطه کي د نظم د ساتلو لپاره په داخلي او خارجي سطحه د قوانینو د پلي کولو واک ولري. په پخوانیو پیریو کي دولتونه له یوې خوا څخه خودمختاره و او له بلي خوا دوی پخپل اعمالو کي ځاته ځوابګویه نه و. په اوسنی پیرۍ کي د دولتونو دغه استقلالیت تر یوې اندازې پورې محدوده شویده. ځکه چي اوس دولتونه د وارداتو او صادراتو له پلوه یو په بل باندي تکیه کوي. نړیوال عامه افکار چي د ټولنیزو رسنیو له لارې سره تبادله کیږي، هم پخپل وار د دولتونو په کړنو باندي د ناظر او فشار واردونکي رول لوبوي. دریمه نړۍ چي د جهان زیاته برخه تشکیلوي؛ پخپلو اعمالو کي استقلالیت نلري، ځکه دوی په اقتصادی لحاظ په نورو دولتونو متکي دي. [9]

**دریم: د نړۍ میلان د څو قطبي کیدلو خواته:**

په سیاسي لحاظ قطبي کیدل دا معنی ورکوي چي یو ابر قدرت دولت ددې وړتیا لري تر څو نور دولتونه تر خپل تاثیر لاندي راولي او دا دولتونه د نوموړي دولت د ګروپ غړي په حیث ښکاره شي.
د دوهمي نړیوالي جګړي په ختمیدو سره دوه دولتونه چي ځواکمن پاتي شول، دا دولتونه امریکا او روسیه و، دوی د مختلفو ایدیالوژۍ ګانو پیروان و او په نړۍ باندي د ولکې تر لاسه کولو او د خپلي ایدیالوژۍ د عملي کولو لپاره سره په مقابله کي شول. چي په آخر کي دا رقابت په کال ۱۹۹۲ کال کي د پخواني شوروي له پاشل کیدو سره سم پای ته ورسید. وروسته لدې یواځینی ځواک د امریکا متحده ایالات پاتي شو چي چا یې د سیالی توان په ځان کي نه لید. ولي پدې وروستیو کي لیدل کیږي چي ځیني دولتونه لکه روسیه، چین، جاپان، المان ... شته چي په اقتصادي لحاظ ورځ تر بلي ځواکمن کیدونکي دي او د امریکا زبرځواکي ته چیلینج ورکوي. [10]

**څلورم: په نړیوالو اړیکو کي نوې پیچیده ګی:**

که چیرې موږ د نړیوالي ټولنې د هیوادونو تعداد ته نظر وکړو نو ګورو چي په کال ۱۹۵۰م کي د نړۍ د هیوادونو شمیر ۶۰ و ولي اوس (۲۰۱۹م) کي یې تعداد ۱۹۵ ته رسیږي. دلته د پام وړ خبره داده چي پدې شاوخوا ۷۰ کلونو کي یې تعداد درې چنده شوی، نو معلومداره خبره ده چي د هیوادونو د تعداد په ډیرښت سره هم سیاسي تعاملاتو کي ډیر تفاوت او بدلون راځي او هم په کل کي د نړۍ په سطحه هر اړخیزه ژور بدلون لیدل کیدای شي. [11] [12]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

**پنځم: په نړیواله سطحه اقتصادي اړیکې:**

په اوس وخت کې نړیوال تراو زیات شویدی؛ که غریب هیوادونه دي نو هغه د پرمختللو هیوادونو پانګه اچونې، ټکنالوژۍ او په حکومتدارۍ کې مشورو ته اړتیا لري. په مقابل کې غني دولتونه د غریبو دولتونو خامو موادو، انساني پانګې او همدارنګه د خپلو تولیداتو د خرڅلاو لپاره بازار ته ضرورت لري. اوس وخت کې د شمال او جنوب تر منځ ( دا له اقتصادي نظره د نړۍ د هیوادونو ویش دی؛ هغه دولتونه چې په اقتصادی لحاظ غني دي شمال او هغه چې غریب دي د جنوب اطلاق وربانديې کیږي) فاصله هم زیاته شویده. که د لاتیني امریکا، آسیایي هیوادونو او افریقا هیوادونه له اروپایي، شمالي امریکا او پرمختللو آسیایي هیوادونو سره مقایسه کړو نو ګورو چې ددوی د سړي سر عواید یو له بل سره ډیر زیات تفاوت لري.
بل مهم ټکی چې د یادوني وړ دی؛ اوس وخت کې په سیاسي او ایدیولوژیک لحاظ رقیب دولتونه د سیاست په پرتله اقتصاد ته ډیر اهمیت ورکوي. او نه غواړي چې ددوی اقتصاد ته د سیاسي رقابت په اساس ضربه ورسیږي غوره مثال یې د چین او امریکا تر منځ سره د سیاسي اختلافاتو سربیره هم یو ښه اقتصادي راکړه ورکړه شتون لري، یا د هند او چین تر منځ تجارت هم پدې ځای کې یو غوره مثال ګڼلی شو. [13]

**شپږم: د غیر دولتی او څو ملیتی نهادونو قوي رول:**

غیر دولتي سازمانونه (NGO's) هغه سازمانونه دي چې د کوربه هیواد څخه د جواز اخیستو وروسته په غیرانتفاعي فعالیتونو لاس پورې کوي لکه تعلیم، مالي مرستې، حرفوي زده کړې، د قانون پوهه او داسې نور. څو ملیتي شرکتونه (MNC's) بیا هغه شرکتونه دي چې په یو هیواد کې مقر لري ولې د فعالیت ساحه یې ډیر هیوادونه وي. په یوویشتمه پیړۍ کې ددوی شمیره نهایت زیاته ده او ورځ تر بلې زیاتیدونکې ده.
که څه هم ډیر د سیاست تحلیلګران دغو نهادونو ته د شک په سترګه ګوري او نظر ورکوي چې دغه نهادونه د اصلي هیوادونو لپاره د سیاسي او استخباراتي چارو په ترسراوي کې مرسته او کومک کوي. باید ووایو چې اوسنی پیړۍ کې دغو نهادونو هم په ډیرو ساحو کې د دولتونو لاس لنډ کړی دی او په هیوادونو باندې د ناظر په حیث رول لوبوي. ځیني د دولتونو د قوي شتون پلویان هم ددغو نهادونو شتون ته خوشبینه ندي او وایي چې دا نهادونه د دولتونه په چارو کې مداخله کوي او همدارنګه د دولتونو شتون ته یو نوع ګواښ دي. [14]

**اووم: د نوو ایدیالوژي ګانو پیدایښت او زور:**

ایدیولوژي (Ideology) په اصل کې له دوو یوناني کلیمو مشتقه شوې چې؛(ideos) د نظر یا اند په معنی او (logos) د پوهې معنی ورکوي نو لغتا د نظریاتو د علم په مفهوم راځي. د ایدلوژي د تعریف په اړه علماء په یوه خوله ندي ولې موږ به یې د معرفت په خاطر دا تعریفونه دلته بیان کړو: ایدلوژي د یو فرد یا ډلې د نظریاتو او عقایدو مجموعه ده. یا ایدیولوژي د نظریاتو سیستم ده چې د یو ټولنیز، مذهبي، سیاسي یا تجارتي بنسټ کړنې او عقیدې تشریح کوي او د مشروعیت بڼه ورکوي.
د تاریخ له مطالعې ښکاري چې پخوا ځینو ایدیولوژي ګانو لکه لیبرالیزم، کمیونیزم، فاشیزم.... د نړۍ په سیاست کې رول لوباوه، ددغو ایدیولوژي ګانو ځانګړنې دا وې چې دوی د یوې ټولنې هر اړخیزه مطالعه کوله لکه د ټولنې سیاسي جوړښت، اقتصادي ساختمان، اجتماعي اړخ او نور. ولې اوس نوې ایدیولوژي ګانې رامنځ ته شوي دي چې یواځې یوه مشخصه برخه مطالعه کوي او نورو برخو ته خاص اهمیت نه ورکوي. دا ایدیولوژي ګانې لکه فیمینیزم (د ښځو او نارینه و د حقوقو او امتیازاتو برابري غوښتنه)، انوایرمنټالیزم ( د چاپیریال ساتنې ایدیولوژي) او داسې نور... [15]

**اتم: د سیمه ایزو مرستو زیاتیدل:**

پخوانۍ پیړۍ ددې شاهدې وې چې کله یو دولت زورور شو نو کوښښ به یې کاوه چې شا او خوا هیوادونه تر تسلط لاندې راولي او ددوی له بشري قواو او خامو موادو نه ګټه پورته کړي. د دویمې نړیوالې جګړې او په خاصه توګه سړې جګړې په ختمیده سره چې کله د دولتونو تر منځ ددې فکر بیرته پیدا شو تر څو له سیاسي رقابت نه تیر شي. نو ګورو چې د دواړو نړیوالو جګړو تر ټولو زیات زیانمن شوي او ښکیل هیوادونه لکه فرانسه، ایتالیا، المان او نور سره یو ځای شول او د اروپایي ټولنې بنسټ یې کیښود، تر څو هغه زیان چې دوی ته رسیدلی و یو اندازه په ګډه سره جبران شي.
دغه کار د نړۍ د نورو دولتونو لپاره هم د یوې بیلګې رول ولوباوه، نو هماغه و چې په سیمه ایزه سطحه؛ پدې هدف چې د غرب له اقتصادي اړتیا نه ځانونه خلاص کړي او همدارنګه یو متوازن انکشاف د ناسالم سیاسي رقابت ځای ونیسي، دولتونو د مشترکو وضعیتونو په اساس سیمه ایزې ټولنې جوړې کړې چې ښه مثالونه یې د جنوب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ختیځ آسیایي هیوادونو د همکارۍ ټولنه (ASEAN)، د جنوبي آسیا د هیوادونو د همکارۍ ټولنه (SAARC)، د تیلو د صادرونکو دولتونو سازمان (OPEC) دي.[16]

## نـهم: نړیوال تروریزم:

که څه هم د تروریزم د تعریف په اړه سیاست پوهان او هم دولتونه په یو نظر ندي. په نړیواله صحنه کې هم هر څوک تروریزم ته د خپلو ملی ګټو په نظر کي نیولو سره تعریف ورکوي. بیا هم د مفهوم د اخیستو لپاره موږ یی یو دوه تعریفونه دلته رانقلوو: د جورج ټاون امریکایي پوهنتون له نظره؛ تاوتریخوالی او یا د تاوتریخوالي ویره چي د سیاسي موخو لپاره کاریږي تروریزم ده. او د اکسفورډ پوهنتون استاد ریچاردسن وایي تروریزم د سیاسي هدف لپاره په قصدی او له تاوتریخوالي ډک حالت کي د عامو خلکو تر هدف لاندي نیولو ته تروریزم ویلی شو.
دغه پیرۍ بیا په خاص ډول سره د امریکا په نړیوال اقتصادي مرکز باندي (۹/۱۱) له برید نه وروسته د ډیرو هیوادونو او بیا په ځانګړي ډول د امریکا د بهرنۍ پالیسی له مهمو موضوعاتو څخه ده. یا که په بل ډول ووایو پخوا د نژادي پورته والی، د دیموکراسی د پراختیا، بشردوستانه مداخلو ځای اوس له تروریزم سره مبارزې او پدې نوم په نورو هیوادونو کې د مداخلې د توجیه لپاره په کار وړل کیږي. [17]

## لسم: ګلوبلایزیشن (نړیوال کیدل):

د لیوین څیړنیز انستیتوت د تعریف له مخي نړیوال کیدل د خلکو، شرکتونو او بیلا بیلو ملتونو د دولتونو تر منځ د تعامل او هم بستګی پروسه ده، دا پروسه د نړیوال تجارت، پانګوني او معلوماتي ټکنالوژۍ په اساس پر مخ ځي.
ګلوبلایزیشن یا نړیوال کیدل هغه پروسه ده چي ځیني ډلی او دولتونه (اقتصادي پرمختللي دولتونه) یي پلوي دي او وایي چي اوس پدي شرایطو کي ټوله نړۍ داسي حیثیت لري لکه د یو کلي؛ نو پدي کلي کي باید د مختلفو دولتونو تر منځ د راکړې او ورکړې آزادي شتون ولري. ولي بعضي هغه دولتونه چي د استعمار ترخه تجربه لري او یا په اقتصادي لحاظ کمزوري دي وایي چي نړیوال کیدل د نوي استعمار نه پرته بل څه ندي. دا هغه بهانه ده چي په مټ یي غرب یو ځل بیا غواړي موږ تر خپلي ولکي او حاکمیت لاندي راولي. [18]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ